واحد فقیري

۲۰۱۲/۰۴/۲۴

# د کابل همزمانه حملې

په کابل، ننګرهار، لوګر، او پکتیا کې د طالبانو همزمانه حملو یو ځل بیا د کرزي صاحب حکومت او د هغه بین المللي حامیان سخت غافلګیره کړل. طالبانو په خورا مهارت د کابل په زرغوني ډیپلوماتیکي سیمي کې نفوذ کړی وو، او هلته یې په نویو تعمیرونه کې سنګرونه جوړ کړي ول. هغوی له خپلو جګو مرچلونو څخه د جرمني، برتانیې، جاپان، امریکا، او روسیې پر سفارتونو باندې مستقیم ګوزارونه کول، او ۲۴ ساعته یې د وزیر اکبر خان سیمه بنده او فلجه کړې وه. د طالبانو بلې ډلې پر پارلمان باندې برید کړی وو، او هلته هم طالب جنګیالي یوې ودانۍ ته پورته سوي ول او پر پارلمان یې ټکان کول. په مقابل کې، د کندهار استازي ښاغلي حمیدزی د پارلمان د حریم او حاکمیت د دفاع په غرض جوابي ډزې کولې.

د طالبانو حملې منظمې، په دقت پلان سوې، او په پوره قاطعیت او تشدد اجرا سوې. د مارچ ۱۵ په حملو کې یو بل نوی انکشاف دا دی چې طالبان نور موټربمونه زیات نه کاروي، بلکې مغلقې ځانمرګي ښاري حملې کوي. د لویو ښارونو د قدرت مرکزونه او حساس ځایونه د ساعتونو او یا ورځو لپاره په جنګي میدانونو بدلوي. د انتحاري جنګیالیو واړه او سیار ټیمونه د حکومتي قواوو سره مخامخ جنګیږي، او ښاریان یې عیني شاهدان وي. تیرځل، طالبانو د امریکا سفارت، ایساف مرکز، او دافغان استخباراتو یو مهم دفتر له یو څو پوړیز عمارت څخه په نښه کړي وو. د تیر کال حملو د متحده ایالاتو او پاکستان روابط ډیر خراب کړل، ځکه هله هم د حقاني ټروریستي شبکه تورنه وه.

په عین حال کې، د کابل حملو وښوده چې د کرزي صاحب بیکاره حکومت ته په ۲۰۱۴ کې ټول امنیتي مسؤولیت ورسپارل به نن سبا په غربي ملکونو کې سیاسی مصحلت وي، خو دا حکومت ددې جوګه ندی چې امنیتي مسؤولیت سمبال او اجرا کړي. که څه هم د طالبانو په وژلو کې د دولت ځینې امنیتي واحدونه ښه وبرېښېدل، خو په کلي توګه د مرکزي حکومت بې کفایتي او غفلت له هره لحاظه رابرسیره سو. برعلاوه، د مار چ حملو په کابل حکومت کې د مخالفانو پراخ نفوذي فعالیت او شتون هم ښیي.

په کابل او نورو ولایتونو کې، د طالبانو د مارچ ۱۵ نابېره ځانمرګي حملو څو اهداف لرل چې دلته به په لنډه توګه اشاره ورته وسي.

د طالبانو لمړی هدف د مرکزي حکومت عجز او کمزوري ښودل ول. دې حملو د کرزي صاحب د فاسدې اداري همدا خطرناک ضعف لا عیني او بربنډ کړ. په بل عبارت، د کابل حکومت استخباراتي او امنیتي ورګانونه د خپلو وظایفو په سرته رسولو کې په څرګنده توګه پاتي راغلل. هغوی نه مخکې له مخکې د حملو پلان کشف کړ، او نه هم د مهماتو او خلکو له تګ راتګ څخه خبر سول. دېته وایي استخبارات! دې بریدونو وښوده چې د کابل اداره پرته له خارجي حامیانو څخه د طالبانو په مقابل کې د مقاومت تاب نه لري. البته، ریس صاحب په عام محضر کې ومنل چې دې حملو د افغان او ناټو استخباراتو «ناکامي» وښوده.

په کابل کې د طالبانو د حملو بل هدف تبلیغاتي وو. کابل مرکز دی او د ملي او بین المللي مطبوعاتو پام ژر ور اوړي. ټول سفارتونه، نړیوال موسسات، اینجیوګاني، او د خارجي میډیا مرکزونه په کابل کې دي. په مرکز کې د طالبانو یو ټک په ولایاتو کې د هغوی له سلو ډزو سره برابریږي. په کابل کې، پر یوه سفارت باندي حمله کول، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ازانګې کوي. طالبان پوهیږي چې په لسهاوو ځانمرګي جنګیالي کابل نه سي فتح کولای، مګر نابېره ښاري حملې کولای سي چې د ۲۴ ساعتو لپاره د نړیوالو مطبوعاتو سرلیک مضمون سي. د اکانومیست مجلې د «غیر عادي او ننداریې» عنوان لاندې لیکي: د کابل حملو د حقاني شبکې ځانګړې ټاپه لرله. لدې وروسته به د افغانستان جنوب


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شرقي سيمي د ناټو زياته توجه ور جلبه کړي، ځکه دلته د حقاني شبکه فعاله ده. همدا منطقه به د کابل د سياسي برخليک لپاره د راتلونکي معرکي اصلي ميدان هم وي.

د طالبانو بل هدف ډار او بې اعتمادي خورل دي. طالبان غواړي چي افغانانو او نړيوالو ته وايي چي هر ځای او هر وخت عمليات کولای سي. پر سفارتونو، وزارتونو، او پارلمان باندي برید کولای سي. نه د کابل حکومت او نه هم ناټو د دوی د حملو مخه نيولای سي. همداراز، د ناټو مشرانو هغه ادعا چي وايي د طالبانو مومينټوم مو ور خراب کړی دی، درسته نده. بلکي برعکس طالبانو کش کړی دی، او له دفاعي او چريکي حالت څخه يې تهاجمي بڼه غوره کړي ده او د ښاري جنګونو لپاره ځانونه تياروي. په عين زمان کي، طالبان غواړي چي خپل سام، نفوذ، او سلط خوره کړي، او افغانانو او جهانيانو ته طالبان نه ماتېدونکي وښيي.

والسلام


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ